عبدالرحمن فرقانی ۲۰۱۰/۰۷/۱۷م

# نړیوال کنفرانسونه

## دمعضلو اوارول که د استعماری قوتونو دتوطئو تبریرول؟

د نړیوال سیاست په ډګرکې اکثرا نړیوال کنفرانسونه د دې لپاره رابلل شوی دی، چې د یوې معینې مسالې د حل لپاره لارې چارې وخیړی، او د کشالې د ختمیدو امکانات د هغو اطرافو د لید لوریو په رڼا کې وخیړي، چې دا معضله ئې رامنځ ته کړی ده. د ټولو اړخونو له طرفه په هغه طرحه شوی اجنډا لید لوری وړاندی شی، چې عادتا د نړیوالې ټولنه له لوري د کشالې د ختمیدو لپاره مطرح شوی وي. او هغه مهال د یوه کنفرانس پریکړو او مثمر واقع کیدلو ته هیلمن کیدلای شوو، چې نړیواله ټولنه د کشالې ټولو اطرافو ته په یوه سترګه وګوری، او خپل سیاسی مقاصد او اهداف پکښې ونلری. خو له څه مودې راپدیخوا په تیره بیا کله چې د روسیه امپراتورۍ په افغانستان کې ونړیده، نو د نړیوالې ټولنې توازن او تعادل زیانمن شو، او نړیواله ټولنه د نړیوالو سیاسی معضلو په اوارولو کې د یوه قطبه سیاست، چې امریکا ئې مشری کوی، تر اغیزې لاندې راغلې ده، او خپل مشروعیت او حیاد (بې طرفي) له لاسه ورکړې ده. سره لدې چې د روسانو د امپراتورۍ تر نړیدو وړاندې هم د نړیوالې ټولنې دوه ځواکمن قطبونه په ګډه د اسلامی هیوادونو دښمن وو، خو بیا هم کله نا کله د دوی د سیاسی مصلحتونو د ټکر په صورت کې اسلامی هیوادونو ته د دریمې لیارې احتمال په لاس ورته. خو له کومی ورځې چې امریکا د نړیوال سیاست د ډګر یوازنۍ لوبغاړې شوې ده، نو هغه هیوادونه ئې هم په ځان پسې روان کړی دي، چې د نړیوالې ټولنې نوم پرې اینودل کیږی، او په نړیوال سیاسی چاپیریال کې امریکا د خپل جنایتونو او جرمونو د تبریر لپاره ترینه نه ګټه اخلی، او دا راز نړیوال کنفرانسونه چې باید نړیوالې کشالې اوارې کړی د خپلو مصلحتونو لپاره توظیفوي.

کوم مهال چې د امریکا په مشرۍ استعماري قوتونو پرافغانستان نظامی یرغل تر سره کړ، او بیا ئې وغوښتل چې د نړیوال سیاست په ډګر کې خپل یرغل او اشغال ته قانونی بڼه ورکړی نو ئې د افغانستان د سیاسی برخلیک دټاکلو لپاره د بون کنفرانس دایر کړ، خو څرنګه چې استعماری قوتونود خپل تور تاریخ په اوږدو کې دا حربه ( نړیوال کنفرانسونه)هم د خپلو نا وړه جرمونو د تبریر لپاره توظیف کړی دي، نو د بن کنفرانس ئې هم د خپلو ناوړه یرغل او اشغال د تبریراو دافغانستان دسیاسی واکمنۍ د ترلاسه کولو لپاره وګماره. د نړیوالې ټولنې تر نامه لاندې ئې د بن کنفرانس د افغانستان د سیاسی برخلیک د ټاکلو لپاره دایرکړل، او یوازی هغه سیاسی ډلې ئې ورته دعوت کړی، چې د دوی یرغل ئې پرافغانستان باندې شونی کړ، خو پدې کنفرانس کې نه د ملت ریښتینی استازی وو، او نه هم د هغه وسلوالې نظامی ډلو استازی وو، چې د یرغل په وړاندې ئې د مقاومت پالیسی خپله کړه، یوازی هغه سیاسی ډلې او قوتونه پکښې شریک شول چې د افغانستان د سیاسی برخلیک په سر ئې د اشغالګرو ځواکونو سره معامله وکړه، او دبن په کنفرانس کې ئې د استعماری قوتونو د پلان څخه سرغړونه نه شوی کولای، او په پای کې ئې هغه طرحه شوی پلان ته پرته له کوم بدلون څخه غاړه کیښوده. د بن په کنفرانس کې د امریکا په مشرۍ د استعماری غاصب قوتونو پلان ټکی په ټکی تطبیق شو، سره لدې چې د بن په کنفرانس شریک شوی ډلې د لویدیځ مخالفې سیاسی افغانی ډلې ګڼل کیدې، او دلویدیځ په مقابل کې د راپرزیدلی قطب روسیه، ایران، هند نه ئې حمایت تر لاسه کاوه، خو دافغانستان سیاسی اقتدار ته درسیدو په هیله دغو ډلو د لویدیځ لمن هم ونیوله، اوسربیره پدې ایران په دغو ډلو کې د خپل نفوذ په بنسټ امریکا او لویدیځ ته دا خدمت وکړ، چې دا ډلې ئې قانع کړی، تر څو د بن کنفرانس پریکړو ته غاړه کیږدی، او حمایت ئې وکړی.

د بن په کنفرانس کې چې د افغانستان د سیاسی برخلیک اړوند کومې پریکړې وشوې، د افغانستان د سیاسی معضلې یوه مهمه برخه، چې نظامی او وسلوالې ډلې دي، او د ملت اراده وه له پامه وغورځول شول. د افغانستان په معضله کې دا طرف یو حقیقت دی که څوک ئې مني او که ئې نه مني، او دا طرف د هغو ډلو د مشورې په اساس له پامه وغورځول شو، چې د افغانستان د سیاسی برخلیک په ټاکلو کې ئې د لویدیځ سره معامله وکړه، څرنګه مو چې وړاندې وضاحت وکړ. نو ځکه دا کشاله حل نه شوه، او کوم جګړه ایز حالت چې باید ختم شوی وی، په خپل حال پاتې شو. د لویدیځ استعماري قوتونو د نظامی یرغل او اشغال سره د افغانستان سیاسی واک هم د افغانستان د کشالې د یواړخ په مرسته په لاس کې واخیست، او د نړیوال سیاست په ډګر کې ئې ورته قانوني بڼه هم د بن د کنفرانس له لارې حاصله کړه.

خو په عملی ډګر کې هغه څه چې د افغانستان لپاره پلان شوی ؤ، له ستونزو سره مخ شول. په عربي ژبه کې یو متل دي وایي (تجری الریاح بما لا تشتهی السفن ) وایی : باد هغې خوا ته لړیږي چې کیښتۍ ئې نه غواړی. دقیقا په افغانستان کې هم داسې وشول، باد هغې خوا ته لړیږی چې استعماری قوتونه ئې نه غواړی. د وخت په تیریدو او د حالاتو په بدلیدو سره ستونزې او کړاونه هم زیاتیدل. لدې کبله دافغانستان د سیاسی ثبات او استقرار او اقتصادی ودې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لپاره  په لندن کې هم یو نړیوال کنفرانس را وبلل شو، که څه هم په نړیواله میډیا کې د افغانستان د کړکیچن وضعیت نه د وتلو عنوان ورکړ شوی ؤ، خو د پردې ترشا هغه ستونزې وڅیړل شوی، چې د ناټو د غړو هیوادونو ترمنځ د افغانستان د جګړې اړوند پیدا شوی وی. که په نړیواله کچه د ناټو دغړیو هیوادونو سیاسي تګلاره او راکړه ورکړه وڅیړل شي، نو داسې ښکاري، چې د ناټو د پیمان هیوادونه د افغانستان د وضعیت په هکله په یوه واحده استراتیژۍ د راټولیدلو اړوند ستونزې لري، که څه هم له اساسه د افغانستان په جګړه کې د ناټو هیوادونو د خپل دستور نه سرغړونه کړې ده، خو د خپل پیاوړي ملګري (امریکا) د رضا لپاره یې په جګړه کې برخه اخیسته ده، او کیدی شي چې، ګڼ شمیر د ناټو د پیمان هیوادونه په خپل راتګ افغانستان ته پښیمانه هم وي، که امریکا د خپل غچ اخیستو لپاره افغانستان ته راغلې ده، که بریتانیا د خپلې شرمیدلې ماتې غچ په سر کې پالي او د امریکا ملګرې شوې ده، خو د اورپا ګڼ شمیر  هیوادونه د افغانستان له کشالې سره هیڅ تړاو نلري او نه غواړي چې ویې لري، ځکه دا هیوادونه هغه تور تاریخ نشي هیرولي چې د کمونزم  د وحشت او بربریت په چاپیریال کې یې تیرکړئ دی، که امریکا ته د اطلس اوقیانوس د یو پیاوړي سپر په څیر پروت دي، نو دا هیوادونه خو د روسیې او چین چې په ټول قوت سره په نړیوال سیاسي او اقتصادي ډګر کې راولاړ شوي، له جغرافیایی لحاظه شریکه پوله لري، نو کېدي شي له دې ځایه فکر کوي، چې له خپلو ګاونډیو سره خپلې اړیکې د امریکا په حساب ډیرې ستونزمنې نکړي او یوډول تعادل او توازن وساتي، او نه غواړي چې د امریکا او بریتانیې په استعماري کړۍ کې دخپل ګاونډیو هیوادونو سره دښمنۍ ته ادامه ورکړي، چېرته چې دوی په دې دښمنۍ کې کومه ځانګړې لاسته راوړنه نه ویني، او د خپل ویجاړ او کمزوري اقتصاد د پیاوړتیا په فکر که دي.

دا ګمان هم شته دی، چې دا هیوادونه هغه  پایله د افغانستان د سیاسي کشالې په هنداره کې ګوري، کومه چې د بریتانیې امپراتورۍ د ځواکونو یوه ژوندي پاته شوي جنګیالي د بریتانیې حکومت ته انځور کړله، او کومه پایله چې د روسیې د پوځونو مشر ګروموف یې په هکله د افغانستان څخه د وتلو په مهال داسې ویلی ؤ : "پدې تورو غرونو کې موږ له خپل تاریخ سره سره خپله جغرافیه هم له لاسه ورکړله".  د لودیځ د سیاسي مبصرینو په نظرد افغانستان د سیاسي کشالې پایله د تیرو شویو یرغلګرو ځواکونو په څیر بریښي، نو کېدی شي، چې دا هیوادونه په افغانستان کې د امریکا پایله هم دا ډول ګوري.

د افغانستان د سیاسي، نظامي، اقتصادي او ټولنیز ثبات لپاره د لندن په کنفرانس کې که ډیر څه پلان شوي ؤ، او غړیو هیوادونه به په هغو مهمو مسایلو خبرې وکړي، چې د افغانستان په ستونزمن سیاسي حالت کې ئې ژور اثر درلود. په افغانستان کې د یرغلګرو هیوادونو نظامي ونډه، د لندن د محوري او بنیادي پریکړو څخه وه، همدا راز د افغانستان اقتصادي پرمختګ او بیا رغونه به هم تر څیړنې لاندې ونیول شوه، خو دا ټولې هغه ستونزې دي، چې له نظري اړخه د لندن په کنفرانس کې وڅیړل شوي، خو په عملي ډګر کې  دا کنفرانس هم دافغانستان دملت د تیر ایستلو لپاره یو کنفرانس ؤ، څرنګه چې له دې وړاندې تیرشوي کنفرانسونه وو، دیر کتونکي پدې باور دي، چې د ناټو ګڼ شمیر  هیوادونه د افغانستان د ګرداب څخه د وتلو لاره لټوي، او نه غواړي، چې نور د امریکا د جنګي استراتیژیو ښکار شي. دلندن د کنفرانس یوه بنسټیزه پریکړه دا هم وه چې د افغانستان د دولت له لورى د ملي سولې لپاره وړاندې شوی طرحه نافذه شي او په کنفرانس کې راټول شوی هیوادونه ئې ملاتړ وکړی، مګر امریکا په افغانستان کې د دولت هغه هڅې شنډې کړې چې د سولې اړوند ئې په کار اچولی وی، په عملی ډګر کې امریکا د هغو پریکړو ضد راونه ده چې د لندن په کنفرانس کې شوی وې.

اوس که په نړیواله میډیا کې د کابل د نړیوال کنفرانس بنیادي محورونه : اقتصادی پرمختګ، ښه حکومتداري او د امنیت تامین اعلان شوی، او دا هغه محورونه دی، چې د افغانستان سیاسی ثبات او استقرار وربانديې سمبالیدای شي، که چیرې د مسالې ټول اطراف پرې راټول شوی وای، او د یوې ټاکل شوې اجنډا په رڼا کې وربانديې لید لورى وړاندې کړی وای، او په پای کې په یوه واحده ستراتیژۍ سره متفق شوی وای، او دا کار هغه وخت شونی دی، چې د پیدا شویو ستونزو ټول مسؤل اطراف پرې راټول شي، نه دا چې یو اړخیزه غونډه وی او د یوه اړخه نه پریکړې صادری شي، اوعملی بڼه ئې شونې نه وي.

ډیر کتونکې پدې اند دي، چې دا کنفرانس هم اشغلګرو قوتونو د خپلو مصلحتونو لپاره په لاره اچولی دی، او پدې کنفرانس کې هم غواړی خپلو جنایتونو ته دتبریر قانونی بڼه پیدا کړی، د اقتصادی پراختیا او ودې تر عنوان لاندې د افغانستان ثروتونه غارت کړی، د دې کنفرانس له لارې هغه ارزښتناکه اقتصادی پروتوکولونه حاصل کړی، چې د افغانستان د معدنونو د استخراج لپاره ورته اړتیا ده.  او د امنیت د تامین په ډګر کې خپل نوی پلان چې د سیمیزو ملیشو تشکیل دی، افغانان په خپل منځ جګړه کې ښکیل کړی او دوی له مخامخ ګواښ نه ځان وژغوری، اود ښې حکومتدارۍ تر عنوان لاندې د افغانستان اوسنی سیاسی اداره، چې غواړی د کومې انګیزې په بنسټ په افغانستان کې ملی پخوالاینه ممکنه شي، د اداری فساد د تورپه پلمه ترخپل فشار لاندي وساتی، ترڅو د دوی اسلام ضد او افغان ضد پلانونو ته خنډ نه شی، او هر سیاسی خوزښت ئې د دوی د سیاسی ستراتیژۍ له چوکاټه وتلی نه وی. پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ